مجله علمی سلام
Salam Academic Journal
*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af
سال هشتم، دور دوم، شماره ۳، بهار ۱۴۰۲ هـ.ش

# د پیسو په ارزښت کې بدلون او د پورونو په ادا کولوکې یې اغیزې

# Change of Currency value and its impact on debts repayment

DOI: 10.64104/SecondRound.Issue.3.n9.2023

محمد آصف کوچی[1]، سربلند حلیمی[2]

## لنډیز

څرنګه چې په حاضر وخت کې په پیسوکې د ارزښت له پلوه بدلون زیات پېښیږي او اغیزې یې په افرادو او ټولنو نیغ په نیغه شته دی؛ لدې امله د اسلامي شریعت معاصرو علماوو ورته د یوې نازله په حیث، زیات اهتمام کړی دی، پدې هکله یې زیاتې لیکنې کړې او د پیسو نوعیت، ځانګړنې، چاپ او د چاپ کمیت یې، ټولې هغه مهمې چارې بللې دي، چې د حکومت صلاحیت او مسؤولیت دی اوحکومت باید د پیسو د ساتنې لپاره هر اړخیز تدابیر ولري.

له دې لیکنې څخه عمده هدف، په پیسوکې د ارزښت له اړخه د بدلون په صورت کې، د پور د ورکړې شرعي حکم بیانول دي، نوکه چیرې دین د سرو زرو دینارو یا د سپینو زرو درهمو وي، په اتفاق د علماوو، په هغوکې د ارزښت بدلون څه اعتبار نلري، بلکې پوروړی به هماغه کچه دین ورکوي چې مخکې یې په ذمه کې ؤ، اوکه چیرې دین د معدني سکو وي، د جمهورو فقهاوو په وړاندې حکم یې د دینارو اودراهمو په څیر په ارزښت کې بدلون اعتبار نلري، خود امام ابویوسف رحمه الله په وړاندې د معدني سکود ارزښت بدلون د دین په ورکړې کې معتبر دی، پدې معناچې د دین څښتن ته به پورد پیسو په ارزښت کې پیښ تفاوت محاسبې سره مل، ورکول کیږي، چې په حنفي مذهب کې د امام ابویوسف په قول فتوا ده.

اما د اوسنیوکاغذي پیسود دین د ورکړې د څرنګوالي په اړکې د معاصرو علماوو دوه عمده نظرونه دي، چې د لاندې محملونو په ټاکلو سره ورته اعتبار ورکړل شوی دی:

لومړی محمل عادی اوعام حالت:که دیوه هیواد پیسې له تورم څخه په امن وي اوپه ارزښت کې یې فاحش تفاوت نه وي راغلی، لږ تفاوت د دین په ادا کې اعتبار نه نلري؛ ځکه د نورو اجناسو قیمتونه هم دکال په اوږدوکې کښته او پورته کیږي، خو د دین په ادا کې یې دغه تفاوت ته اعتبار نه ورکول کیږي.

ISSN: 3078-9575 (Print)
ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۰۵/۱۵
تعداد صفحات: ۱۶
از ۱۴۷ تا ۱۶۲

[1]. دسلام پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي د علمي کدر غړی. asifkochai@gmail.com
[2]. دسلام پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي د علمي کدر غړی. Sarbelan2@gmail.com

دویم محمل: استثنایي اوخاص حالت:که د یوه هیواد پیسې په لویه کچه د غیرعادي عواملو په وجه خپل ارزښت له لاسه ورکړي، په دې حالت کې فاحش غبن رامنځ ته کیږي، که چیرې داین ته دین دکمیت له مخې هماغه ټاکلی دین ورکړل شي، پدې صورت کې هغه خپل حق په بشپړه توگه نه ترلاسه کوي؛ نودلته باید د اهل خبرو او مسلکي خلکوله خوا تفاوت د محاسبې له لارې، د داین ضرر جبران شي.

د یوه هیواد د پیسو د ناچله کیدو په حالت کې، د دین د ورکړې څرنگوالی، په دوو صورتو کې داسې بڼه بیان شوی:

۱. د پیسو د ناچله کیدو یو صورت دادی چې یوحکومت پخوانۍ پیسې لغوه او راکړه ورکړه پرې منعه اعلان کړي او پرځای یې نوی پیسې اعلان کړي، پرته لدې چې د لغوه شویو او اوسنیو پیسو ترمنځ په ارزښت کې څه تفاوت شتون ولري. د پیسو د بطلان د یاد صورت سبب بالعموم د نظامونو بدلون وي، په دې حالت کې معمولاحکومتونه خلکوته معین وخت ټاکي، څو پخوانۍ پیسې اړونده جهتونوته وسپاري او پرځای یې نوې پیسې ترلاسه کړي. د یادونې وړده چې په بانکي حسابونو کې شته پیسې په خپله بدلیږي. په دې صورت کې د حقونو خاوندان خپل حقوق د نویو پیسو په اخیستلو سره ترلاسه کوي او د پخوانیو پیسود مطالبې کوم دلیل شتون نلري.

۲. دویم صورت دا دی چې دحکومت له خوا پخوانۍ پیسې لغوه او پرځای یې نوې پیسې اعلان شي، خو د دواړو ترمنځ د ارزښت له اړخه تفاوت شتون ولري، لکه اوسنې افغانۍ چې د استاد رباني دحکومت د پخوانیو پیسو ځای ناستې شوی، پخوانۍ سل افغانۍ په یوې اوسنۍ افغانۍ معادلت شوې. په دویم صورت کې پخوانۍ پیسې اکثرا د تورم په سبب لغوه کیږي. دلته هم د لومړي صورت په څیر، دحقونو خاوندان مکلف دي، چې خپل حقونه په نویو پیسو ترلاسه کړي.

**کلیدي کلیمې: پیسو، تبادلات، نسیه، بانکنوټ، کساد او انقطاع، تغیر النقود**

## دپیل خبره:

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبي بعده أما بعد:

د خلکو ترمنځ راکړه ورکړه د متبادلو اړتیاوو د پوره کولو مهمه او اغیزناکه وسیله ده، چې په اوسنۍ زمانه کې دغه تبادلات تر ډیره بریده د پیسو په ذریعه ترسره کیږي، د دې لپاره چې پیسې د تبادلاتو وسیط او د اشیاوو د ارزښت معلومولو مقیاس گڼل کیږي، نو غوښتنه دا وه چې پیسې باید له ارزښت له اړخه ثبات څخه برخمنې وې، خو د اقتصاد په ډگرکې د اوسنۍ نړۍ لویه ستونزه د اسعارو په ارزښت کې بدلون او عدم ثبات گڼل کیږي، چې د اقتصاد پوهانو په نظر ترشا یې مختلف عوامل شتون لري.

د پیسو بې ثباتي، نیغ په نیغه د خلکو په اقتصادي وضعیت ناوړه اغیزې لري، په ځانگړي ډول کله چې د یوه هیواد د پیسو په ارزښت کې منفي بدلون چټک وي او ورځ تربله یې پیسې ارزښت له لاسه ورکوي، په داسې حالت کې ډیرې اقتصادي او اجتماعي ستونزې را ولاړیږي، چې په پای کې یو ناوړه حالت او اقتصادي ناورین رامنځ ته کیږي.

په ځانگړي ډول په داسې وضعیت کې د راکړې ورکړې مسایل ډیرستونزمن شي، په دې حالت کې مقرض (قرض ورکونکی)او داین (پور ورکونکی ) زیات زیان مومي، پرته لدې چې مدیون(پوروړی) له خوا کوم تقصیر رامنځ ته شوی وي؛ ځکه مدیون خو د تړون مطابق په ټاکلې موده کې د کمیت له اړخه دین پوره ادا کوي، خو داین د اجناسو په وړاندې د پیسو د ارزښت د کموالي لامله متضرر کیږي. بلې خوا ته د یادونې وړده چې په نسیه (قرض) راکړه ورکړه چې د خلکو او په

ځانګړي ډول د تجارو ترمنځ یو اړین او عام تعامل دی، نو په معاملاتو کې په تاخیر سره دحقوقو د ادا کولو قضیې زیاتې پیښېږي. د دې ستونزې جدیت اومنفي اغیزې په هغو هیوادونوکې زیاتی محسوسیږي، چې د پیسو ارزښت یې د اجناسو پر وړاندې ضعیف شي اوبالخصوص هغه هیوادونه چې د پولي واحد اعتماد یې تر ډېره بریده په ډالرو پورې تړلی وي، چې په تاسف سره په معاملاتو او تجارت کې زموږ د هیواد د کرنسی ( افغانیو) هم، زیاته اتکاء یې په ډالرو ده؛ نوځکه له بې ثباتې سره مخ ده اوله زیات نړیوال اعتبار څخه هم برخمنه نه ده. یادې مقدمې پر بنسټ ویلو چې د اقتصاد په ډګرکې نړی په عامه توګه او زموږ هیوادوال په خاص ډول له څو لاندې واقیعتونو سره مخ دي:

1. د خلکو د ژوند ډېرې اړتیاوې د تبادلاتو له لارې ترسره کیږي،
2. اوسنی پیسې د تبادلاتو مهمه ذریعه ده،
3. زیاته راکړه ورکړه په نسیه ترسره کیږي،
4. پیسې ثبات نلري او د وخت په تیریدو سره د اجناسو پر وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

دپورته واقیعتونو ترڅنګ د اسلامي شریعت تاکید دا دی، چې معاملات باید په داسې ډاډمنه بڼه ترسره شي، څوعاقدان له ضرر څخه خوندي وي؛ پردې اساس د اسلامي فقهې لاربنوونه ده، چې عقد باید په ټوله معنا مشخص اوټول جوانب یې معلوم وي، څو یو اړخ د جهالت له کبله زیان سره مخ نشي.

**د نقودو( پیسو) اهمیت:**

د نقودو( پیسو) موضوع د اسلامي شریعت له نظره ډېره حساسه او مهمه قضیه ده، لدې کبله د پیسو په هکله ټول صلاحیتونه او مسؤولیتونه د وخت حکومت په غاړه اچولي شوې دي، حکومت باید د پیسو په وړاندې د هر ډول منفي احتمال د مخنیوي تدابیر ولري، له تورم، جعل او کساد څخه یې ساتنه وکړي.[3]

د پیسو موضوع اهمیت ته په پام، په هکله یې په پخوانیو اواوسینو متونو کې بحث شوی دی، خوځرنګه چې په حاضر وخت کې په پیسو کې د ارزښت له پلوه بدلون زیات پیښیږي او اغیزې یې په افرادو او ټولنو نیغ په نیغه شته دي؛ لدې امله د اسلامي شریعت معاصرو علماوو ورته زیات اهتمام کړی دی، پدې هکله یې زیاتې لیکنې کړي او ویلي دي چې: د پیسو نوعیت، ځانګړنې، چاپ او د چاپ کمیت یې، ټولې هغه مهمې چارې دي، چې د حکومت صلاحیت او مسؤولیت دی چې باید د پیسو د ساتنې لپاره هر اړخیز تدابیر ولري.[4]

**فرضیه: د موضوع د ښه وضاحت لپاره لاندې فرضیه مطرح کیږي:**

احمد خپل کور په محمود، د یوه میلون افغانیو په بدل کې وپلوره او د دواړو توافق داسې وشو، چې یاد ثمن به محمود احمد ته دوه کاله وروسته تسلیموي، دوه کاله وروسته په داسې حال کې د ثمن د تسلیمولو نیټه پوره شوه، چې د افغانیو ارزښت د عقد زمانې سره په پرتله ډېره ټیټ شوی دی، یعنی دوه کاله مخکې یې ارزښت د نور اسعارو او اجناسو په وړاندې لوړ ؤ او اوس هغه ارزښت نلري.

3. النبراوي، تحريم الربا ومواجهة تحديات العصر، النهار للطباعة والنشر والتوزيع، ج، 2ص.

4. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، الدورة الخامسة، العدد الخامس، الجزء الثالث، لسنة 1988م بحث الدكتور عجيل بن جاسم النشمي، ص162.

**پوښتنې: په یاد صورت کې پوښنتې مطرح کیږی چې:**

- څنګه کیدای شي داین (احمد) خپل حق پرته له ضرره ترلاسه کړي؟
- مدیون ( محمود) څه څنګه کولی شی چې دین، داین ته په بشپړه توګه وسپاري او متضرر هم نشي؟
- څنګه کیدای شي چې دواړه اړخه د سود ورکولو او اخیستلو څخه هم وژرغول شي؟
- څه کول په کار دي تر څو معاملات په عادي ډول پرته له کوم مادي یا معنوي ضرره پرمخ لاړ شي؟

**د تحقیق موخه:**

پدې لنډه څیړنه کې هڅه کووځو له معتبرو پخوانیو او اوسنیومنابعو څخه په استفادې، د پیسو ارزښت د بدلون په صورت کې د قرضونو د ورکړې شرعي حکم څرنګوالی بیان کړو، خو څرنګه چې یاده موضوع پراخه، حساسه او مغلقه ده؛ اړتیا ده چې ځینې جانبي عناوین او ضمني پوښتنې مطرح کړای شي، لکه د پیسو رامنځ ته کیدو تاریخ بیانول، د هغو بیلابیلو ادوار طی کولوپه هکله مختصر معلومات وړاندې کول او د پیسو د ارزښت د تغییر عوامل، دا ټول هغه جانبي عناوین دي چې د بحث په وضاحت کې مهم رول لري .

پورتنیو پوښتنو ته بشپړ او دقیق ځواب پیدا کول، تفصیل او تقسیم ته اړتیا لري؛ ځکه نقود په مختلفو زمانو کې له زیاتو بدلونونو سره مخ شوي دي، د دې پاره چې د پیسوحکم په وضاحت سره بیان شي، د هرې زمانې د پیسوحکم جلا او په منظم شکل وړاندې کوو:

**لومړی- د دینارو او درهمو زمانه:**

دینار اودرهم له اسلام څخه مخکې شتون درلود، چې د روم اوفارس له خوا له سرو او سپینو زروجوړې شوې پیسې، د هغه وخت معتبرې او عامې مروجې سکې بلل کیدې، او دجاهلیت په دورکې په عربوکې هم په راکړه ورکړه کې له اعتبار څخه برخمنې وې، د اسلام مقدس دین په راتګ سره هم، د تسامح له مخې ورته اعتبار ورکړل شو، دغه دینار او درهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه وو د ژوند په مختلفو چاروکې کارول کیدې، البته ارزښت یې له وزن سره ارتباط درلود، پدې معنا چې متفاوت وزن لرونکې درهم اودینار متفاوت قیمتونه لرل [5].

اسلام اسلام په لومړیو کې مالي حقوق او مکلفیتونه د ژوند په مختلفو چاروکې په دینارو اودرهمو سره تقییم او ادا کیدل، لکه د زکات نصاب معلومول او ورکړه یې، د جزیې مقدار، په شخصي احوالو کې د مهر اندازه او ادا یې، د عقوباتو په بحث کې د دیاتو او د هغه سارق چې غلا یې نصاب ته رسیدلی وي، د لاس قطعه کول یې او داسې نور[6].

**د دینارو اودرهمو د پور ادا کولو څرنګوالی:**

ټول فقهاء په یوه نظر دي، چې که د چا په ذمه د سرو او سپینو زرو دینارو او یا درهمو دین وي، د وخت په تیریدو سره سره که په ارزښت کې یې تغییر هم راشي، مدیون به هماغه اندازه دینار یا درهم ورکوي چې په ذمه یې ؤ، په دې معنا چې د سرو زرو اویا د سپینو زرو په قیمت کې د تفاوت موضوع ته نه کتل کیږي؛ ځکه طلا اونقره په خپل ذات کې ارزښت لري او د اشیاوو د تبادلې ذریعه ده، نو په قیمت کې یې تفاوت د دین په ورکړه کې کوم اثر او ارتباط نلري.

---

[5]. ابن خلدون :المقدمة، ص261 السرطاوي، د.فؤاد :التمویل الإسلامي ودور القطاع الخاص، دار المسیرة، عمان، ط(1420، 1هـ1999-م(، ص17.

[6]- القرضاوي، د.یوسف :فقه الزکاة، مؤسسة الرسالة– بیروت، ط، 4سنة1400هـ1980 -م ج، 1ص240.

**د دينارو او درهمو پرته د نورو پیسو شرعي حيثيت:**

دينار او درهم چې له سرو زرو او سپينو جوړې شوې سکې دي او فقهاء ورته د نقدينو اصطلاح کاروي، چې اتفاقي شرعي ( نقدين ) پيسې ګڼل کيږي، خو داچې د دواړو نقدينو پرته نور څه کیدای شي د پيسو حيثيت خپل کړي ؟ پدې هکله علماء په دوو متفاوتو نظرونو ويشل شوي دي:

**لومړی نظر:**

دينار او درهم دوه هغه يوازيني شرعي پيسې دي، چې له هغو پرته نور څه دغه شرعي صفت نشي ترلاسه کولی اوکه څه نوي د تبادلاتو د ذريعې په حيث رامنځ کيږي، هغه به په بشپړ ډول په درهمو او دينارو پورې تړلې او تابع وي[7]. د دې نظر پر اساس اوسنۍ کرنسي، په ټوله معنا نقود نه، بلکې له طلاوو او نقرې جوړو شويو دينارو او درهمو تابع پيسې ګڼل کيږي، چې له واقعيت څخه لرې نظر دی. د دې نظر لرونکو، شرعي نقود په سرو او سپينو زروکې منحصرې بللي دي؛ په دې دليل چې په قرآن کريم او په نبوي احاديثو کې يوازې سرو او سپينو زرو ته اعتبار ورکړل شوی دی، نو سپين اوسره زر خلقتا نقود دي، له هغو عدول جواز نلري[8].

**دويم نظر:**

شرعي نقود په سرو او سپينو زروکې منحصر او محدود نه دي، بلکې د خلکو له خوا د يو څه اتفاق او تعامل په نتيجه کيدای شي د شرعي نقودو حيثيت پيدا کړي، لکه پخوانې فلزي پيسې او اوس مهال کاغذي پيسې چې د تبادلاتو ذريعه ګڼل کيږي او مروجې پيسې بللې کيږي؛ په دې دليل چې د دينار او درهم اعتبار د نقودو په حيث، په اسلامي شريعت کې د اسانتيا له مخې رامنځ ته شوی ؤ؛ ځکه چې دينار او درهم د وحې د نزول پر مهال په خلکو کې رواج وو؛ بناء د پيسو د اعتبار مساله عرف پورې تړلې ده، د وخت په تيريدو که خلک د سرو اوسپينو زرو څخه علاوه، په بل کوم شي اتفاق وکړي، د اسلامي شريعت له اړخه کومه ستونزه نلري، بلکې شرايطو ته په پام، مصلحت په دې کې دی چې اوسنۍ کاغذي پيسې شرعي نقود او د دينارو او درهمو بديل وبلل شي؛ لدې وجهې د علماوو په وړاندې شرعي احکام، لکه د زکات وجوب او ادا يې، د سود حرمت او داسې نور مسايل په اوسنيو مروجو پيسو کې تصور کيږي. امام مالک رحمه الله په دې هکله داسې ويلي دي: که چيرې خلک په راکړه ورکړه کې د دينارو او درهمو پرځای نورڅه، لکه څرمن د پيسو په حيث غوره کړي، بيا ماته په دينارو او درهمو تعامل ښه نه ښکاري. [9]

اوسنۍ مروجې پيسې په خلکوکې پوره اعتبار لري، او خلک يې پانګه او د تبادلو يوازينې وسيله ګڼي. دويم نظر د معاصرو مشهورو علماوو نظر هم دی، لکه ډاکټر يوسف القرضاوي، ډاکټر وهبه الزحيلي، مفتي تقي عثماني.[10]

**دويم: د فلوسو( معدني سکو) زمانه:**

د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې متفاوتې وزن لرونکې دراهم خپاره شول، چې په ارزښت يې کې په طبيعې شکل تفاوت را منځ ته شو، خو د دې ترڅنګ يې يو ډول بې نظمي هم را منځ ته کړه، د دې بې نظمۍ له منځه وړو

---

[7]. زعتري: النقود وظائفها الأساسية وأحكامها الشرعية، ص361-373 بتصرف.

[8]. مخکيني مرجع

[9]. الإمام مالك: المدونة، ج3، ص396

[10]. قرضاوي: فقه الزكاة، ج1، ص 273 (شبير: المعاملات المالية المعاصرة، ص 153)

په موخه عمر رضی الله عنه د میسي سکو د ترویج امر وکړ؛ څوخلک فلزي پیسو ته اعتبار او پرې تعامل وکړي، چې دا د معدني پیسو د رامنځ ته کیدو لومړی پړاو ؤ او وروسته بیا په مختلفو دورو کې مختلف النوع سکې رامنځ ته شوې دي. [11]

**د فلوسو( معدني سکو) د پور ادا کولو څرنگوالی:**

د فلوسو یا معدني سکو د ارزښت د بدلون په صورت کې، د قرض ادا کولو د څرنگوالی په هکله فقهاء په دوو برخو ویشل شوي دي.

لومړی نظر: جمهور فقهاوو( مالکیه، شوافع، حنابله اوامام ابوحنیفه رحمهم الله ) نظر دی، چې وایي:

د معدني سکو( پیسو ) د ارزښت لوړوالی او ټیټوالی د دیونو او قرضونو په ادا باندې کوم اغیز نلري، په دې معنا، که د پیسو ارزښت لوړیږي یا ټیټیږي، په دواړو حالتونو کې، مدیون د دین په هماغه اندازه پیسو اداکولو باندې مکلف دی چې وړاندې د ده په ذمه کې دي. د بحث د اعتبار او وضاحت لپاره د پورته نظر د فقهاوو له منابعو څخه څو مثالونه راوړو:

1. وفي منح الجليل عن المدونة:«إن أقرضته دراهم فلوساً، وهو يومئذ مائة فلس بدرهم، ثم صارت مائتي فلس بدرهم، فإنما يرد إليكم مثل ما أخذ لا غير ذلك».

معنی: که چا ته دې فلس ( د وخت د سکې پیسې ) قرض ورکړي، چې د قرض ورکړې په وخت ۱۰۰ فلس د یوه درهم معادل ؤ، خو وروسته د فلوسو ارزښت ټیټ شو او د ۲۰۰ فلسه د یوه درهم معادل وگرځیدل، نو پوروړی به تاسو ته هماغه اندازه پیسې چې اخیستې وې(۱۰۰) فلس درکوي .

2. و في المغني: «وأما رخص السعر فلا يمنع سواء كان قليلًا أو كثيرًا؛ لأنه لم يحدث فيها شيء إنما تغير السعر. فأشبه الحنطة إذا رخصت أو غلت ... ».[12]

معنی: د پیسو د ارزښت ټیټوالی که لږ یا زیات وي، د دین په ورکړه کې مانع نشي واقع کیدای؛ ځکه په خپل ذات کې په پیسو کې بدلون نه دی راغلی، بلکې په ارزښت کې یې بدلون رامنځ ته شوی دی، نو حکم یې د قرض په ادا کې د غنمو په څیر دی، که د غنمو قیمت ټیټ یا لوړ شي، هماغه اندازه غنم ورکول کیږي، چې په قرض اخیستل شوي دي.

3. وفي مجلة الأحكام مادة 750:« وإذا كان القرض فلوسًا أو دراهم مكسرة، أو أوراقًا نقدية، فغلت أو رخصت أو كسدت، ولم تحرم المعاملة بها وجب رد مثلها»[13].

معنی: د مجله الاحکام په ۷۵۰ ماده کې داسې راغلي دي: که چیرې د قرض نقود، فلوس یا ماتې درهم او یا کاغذي پیسې وي، که د هغو پیسو ارزښت لوړ یا ټیټ او یا کوټه( ناچله) شي، خو تعامل پرې قانوني بڼه ولري، نو هماغه اندازه پیسې ورکول کیږي، چې په قرض اخیستل شوي دي.

دویم نظر: د امام ابویوسف رحمت الله علیه نظر دی، چې په حنفي مذهب کې د ده په نظر فتوی اوعمل کیږي. امام ابویوسف (رح ) وایي: د پیسو د قیمت د لوړوالي اویا ټیټوالي په دواړو صورتونوکې که د چا په ذمه پور وي، د قرض اخیستلو د

---

[11]. الشافعي،حسن محمود :العملة وتاريخها، ص85– بتصرف

[12]. المغنى 358/4، مطالب أولي النهى 241/2.

[13]. مجلة الأحكام الشرعية مادة 750.

ورځې قیمت ته په پام، قرض ورکول کیږي او که د چا په ذمه د بیعې له کبله دین وي، نو د عقد د ورځې قیمت ته په پام کې نیولو سره، دین ادا کیږي.

- **علامه ابن عابدین د امام ابویوسف نظر داسې نقل کړی دی:**

«إذا غلت الفلوس قبل القبض، أو رخصت، قال أبو يوسف: .... عليه قيمتها من الدراهم، يوم وقع البيع أي في صورة البيع، ويوم وقع القرض، أي في صورة القبض. ثم قال ابن عابدين: ....وعليه الفتوى»[14].

معنی: که د پیسو ارزښت له قبضه مخکې لوړ اویا ټیټ شو، د امام ابویوسف په نظر : په پوروړي د پیسو ارزښت ته په کتو، له درهمو هماغه تفاوت ورکول کیږي، یعنی د بیعې په صورت کې د پیسو ارزښت د بیعې له ورځې او د قرض په صورت کې د قرض د ورځې ارزښت حسابیږي او په مذهب کې د امام ابویوسف په قول فتوا ده.

- **تمرتاشي په خپله رساله ( بذل المجهود في مسألة تغير النقود) د امام ابویوسف نظر په لاندې توګه بیانوي:**

« إذا غلت قيمة الفلوس أو انتقصت، فالبيع على حاله، ولا يتخير المشتري، ويطالب بالنقد بذلك العيار الذي كان وقت البيع.. كذا في فتح القدير، وفي البزازية : عليه قيمتها من الدراهم يوم البيع والقبض وعليه الفتوى، وهكذا في الذخيرة، والخلاصة عن المنتقى، ونقله في البحر وأقره. فحيث صرح بأن الفتوى عليه في كثير من المعتبرات، فيجب أن يعول عليه إفتاء، وقضاء، ولم أر من جعل الفتوى على قول الإمام، »[15].

معنی: د پیسو د قیمت لوړوالي اویا کموالي په صورتونوکې، بیعه په خپل حال صحیح ده، مشتري ته د فسخې اختیار نشته، له هغه څخه به ثمن د بیعې د ورځې د پیسو د ارزښت په تناسب او تفاوت غوښتل کیږي، په فتح القدیر او بزازیه کې دا موضوع په همدې بڼه راغلې ده: د عقد د ورځې د پیسو ارزښت ته په پام، په مدیون ( قرض اخیستونکي) د هغو قیمت اوتفاوت ورکول لازم دي او په دې فتوا ده. همداراز په الذخیره او البحر کتابونو کې راغلی ده چې فتوا د امام ابو یوسف په قول ده. داسې څوک نشته چې دی په دې مسآله کې د امام ابوحنیفه رحمت الله علیه په نظر فتوا ورکړی وي.

**دریم: اوسني بانکنوټونه ( کاغذي پیسې)**

اوسنۍ کاغذي پیسې په نړۍ کې مروجې او معتبرې پیسې دي، چې د تاریخ په اوږودو کې له مختلفو پړاونو اوبدلونونو څخه تیرې شوي دي او په پای کې یې دغه اوسنی حالت خپل کړی دی. د د ې بحث اصلي مطلب همدا د اوسنیو کاغذي پیسو( کرنسۍ) شرعي څرنګوالی دی، البته د اوسنیو مروجو پیسو د ارزښت له زاویې څخه. معاصرو علماوو دې موضوع ته زیات اهتمام کړی دی، په دې دلیل چې د پیسو د ارزښت قضیه عمومیت لري، په هکله یې خلکو ترمنځ زیاتې پوښتنې مطرح دي، له عمدو پوښتنو یې یوه داده چې د وخت په تیریدو سره، د زیاتو هیوادونو پیسې د اجناسو او نورو اسعارو په وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکوي؛ ځکه په پیسو کې بالعموم د ارزښت له اړخه تغییر په نزولي بڼه زیات واقع کیږي، کله کله د یوه خاص سیاست له مخې د ځینو هیوادونو د پیسو ارزښت پورته کیږي، نو کله چې د یوه هیواد په پیسوکې منفي بدلون رامنځ ته شي، پدې صورت کې دحقوقو خاوندان چې د نورو په ذموکې له اوږدې مودې راهیسې یې دیون وي، دوی ته خپل دیون د نوي قیمت له مخې ادا کول، په واقعیت کې دوی له زیان سره مخامخ کوي، نوڅنګه کیدای شي چې د دوې

---

14. تنبیه الرقود، ص58، وحاشیة ابن عابدین 24/4.

15. لعقود الدریة، ص281، وتنبیه الرقود ص58.[

ضرر جبران شي؟ د سم او دقیق ځواب پیدا کولو په موخه لاندې تفاصیل وړاندې کول مهم ګڼم. څرنګه چې اوسنی مروجې پیسې، د مبادلې ذریعه، د اجناسو د ارزښت مقیاس اود ټولو اشیاوود مالکیت ښکارندوی ده، پدې معنا چې که څوک نغدې پیسې ولري، هغه د داسې پانګې څښتن دی، چې هر نوعه مال پرې اخیستلی شي، آن تردې چې په مبادله کې د اوسنیوپیسو نقش، نسبت له سرو او سپینو زرو څخه زیات دی.

پورته ځانګړنو ته په کتو، اوسنۍ پیسې باید له بشپړ ثبات څخه برخمنې وای؛ ځکه پیسې د نورو اجناسو د قیمتونو د معلومولو ذریعه ده، خو د دې اصل په خلاف اوسنۍ مروجې پیسې د بیلابیلو عواملو له کبله بې ثباتې سره مخ دي، چې دلته یې په لنډه توګه یادونه کیږي:

داکثره هیوادنو په پیسوکې د ارزښت له اړخه بدلون نزولي وي، په ځانګړې توګه د پرمخ ودې هیوادنو کرنسې یاد مشکل سره زیات مخ کیږي، چې زیاتې اقتصادي او اجتماعي ستونزې زیږوي.

**د اوسنیو پیسو په ارزښت کې د کمښت عمده اسباب:**

څرنګه چې د مروجو پیسو ارزښت له اعتبار پورې تړلی دی، هر هیواد د خپلو پیسو د اعتبار ساتلو لپاره، ځانګړې پالیسي اوپولي سیاست غوره کوي، خو په ځینو وختونوکې حکومتونه د پیسو د ارزښت په ساتلوکې پاتې راځي، چې په اقتصادي وضعیت ډیرې بدې اغیزې لري.

په عامه توګه د پیسو د ارزښت کموالی، هغه مهال رامنځ ته کیږي، چې د عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل مختل شي، په دې حالت کې د پیسو ارزښت د اجناسو په وړاندې کمزوری او اعتبار یې صدمهویني، چې دې حالت ته د اقتصاد په اصطلاح کې تورم وایي او د تورم مختلف عوامل دي، چې لاندې ورته اشاره کیږي:

1. د تورم یو عمده سبب سودي تعامل دی، په ځانګړي ډول د اسلامي هیوادونو د پیسو د بې ثباتۍ اود اقتصاد د ضعف

لوی لامل په سود راکړه ورکړه ده، چې حکومتونه له مختلفوهیوادونو اوبنسټونو څخه په سود پورونه ترلاسه کوي اوله هغو پورونو څخه په پانګونې اود کار موندنې په برخوکې ګټه نه اخیستل کیږي، چې د وخت په تیریدو سره د سود ثقیل چارج له لامله، په ټاکلې موده کې یې بیرته د ادا توان نلري، په پایله کې مدیون هیواد له اقتصادي رکود سره مخ کیږي؛ ځکه سود یوازې د پیسو د ازدیاد باعث کیږي، نه د تولید یا د پانګونې، چې په نتیجه کې دپیسو ارزښت کم او قیمتي رامنځ شي.[16]

2. جنګ او سیاسي بې ثباتي، هم یوله هغو عمده عواملو څخه ګڼل کیږي، چې د یوه هیواد په اقتصاد اوپه ځانګړي ډول په کرنسۍ باندې یې منفی اغیزې لري، د مثال په توګه د سوریا، عراق، صومالیه هغه جنګ ځپلي هیوادونه دي، چې کرنسې یې ډیرې بې ارزښته شوي دي، همداراز اوس مهال د پاکستان روپۍ چې د سیاسي بې ثباتۍ ښکار شوی ده، چې قیمت یې د ډالر په وړاندې په بې ساری ډول کم شوی.[17]

[16]. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، الدورة الخامسة، العدد الخامس، الجزء الثالث لسنة 1988م بحث الأستاذ الـدكتور (3 )یوسف محمود قاسم، ص1707 -1708.

[17]. عبد المهدي: التضخم المالي والتخلف الاقتصادي، ص68

3. د یوه هیواد د فوځ له حده زیات لګښتونه هم د پیسو د ارزښت د کمښت لامل کیږي، دا چې د یوه هیواد فوځ جنګ ته د تیارئ په موخه او یا په جنګ کې ښکیل کیدو له امله، د هیواد د بودیجې لویه برخه مصرفه وي، پرته لدې چې هیواد یې په هماغه کچه مالي توان ولري، بلکې فوځ له سیالۍ لپاره د هیواد په اوږو دروند بار اچوي او د یاد هیواد پیسې له تورم سره مخ کوي.
4. د یوه هیواد د وارداتو زیاتوالی اود صادراتو کموالی هم د یوه هیواد د کرنسۍ په ارزښت باندې منفي اغیز لري؛ ځکه د یاد هیواد په پیسو راکړه ورکړه کمیږي، په بازار کې یې ډالر له کمښت سره مخ کیږي، چې دا په خپله نیغ په نیغه د هیواد کرنسۍ ته لوی ګوزار دی.[18]

پورته شیان د پیسو د ارزښت د کمیدو عمده سببونه دي، چې متعدد نورعوامل زیږوي او په یوه هیواد کې اقتصادي ناورین رامنځ ته کوي

- **د اوسنیو پیسو د ارزښت بدلون او د دین ورکړې څرنګوالی:**

د اوسنۍ پیسو د نزولي بدلون په صورت کې د دین د ادا کولوکیفیت په هکله، د معاصرو علماوو نظرونه.

پدې هکله د معاصرو علماوو له اقوالو څخه درې مشهور نظرونه له دلایلو سره یو ځای راوړو:

**لومړی نظر: د پیسو دارزښت تغییر معتبر دی اود دین په ورکړې کې د محاسبې وړ دی.**

د پیسو د ارزښت د تغییر په صورت کې، د عقد د ورځې قیمت اعتبار لري، پدې معنا که د دین د ورکړې پرمهال د پیسو ارزښت د دین د لزوم وخت سره تفاوت ولري، یعنی اوس مهال یې قیمت ټیټ شوی وي، دحق دلازمیدو وخت ته په کتو، داین ته تفاوت محاسبه او ورکول کیږي. د دې نظر لرونکو له جملې څخه، دکتور محمد سلیمان الاشقر او دکتور علی محی الدین القره داغی دي، د دوی نظرد امام ابویوسف رحمت الله علیه له نظر څخه الهام اخلي، چې د فلوسو په مبحث کې تیر شو.19

د دې نظر پربنسټ که چا یوه کس ته یوکال مخکې ۱۵۰۰۰ افغانۍ پور ورکړی وي او اوس بیرته خپل پور ترلاسه کوي، د افغانیو یوکال مخکې ارزښت ته په پام باید ده ته دین له تفاوت سره مل ورکړل شي.

**د دې نظر دلایل:**

1. د اوسنیو پیسو ارزښت اعتباري دی، خلکو د اتفاق په نتیجه کې ورته یې اعتبار ورکړی دی؛ ځکه دغه پیسې په خپل ذات کې ارزښت نلري او د کاغذ یوه ټوټه ده.
2. اوس مهال دغه مروجه پیسې په سرو او سپینو زرو متکي نه دي او اعتبار یې د طلاوو او سپین زرو له زیرمو سره مستقیم تړاو نلري؛ بناء د دینارو اودرهمو حکم لاندې نه راځي؛ ځکه د اوسینوپیسو اود یادو قدیمو نقودو سره یې ورته والی لږ دی، نو ورته د طلاوو یا د سپینو زرو حکم نه ورکول کیږي.[20]

---

[18]. مخکینی مرجع.

[19]. المعاملات المالية المعاصرة في الفقه الإسلامي، دار النفائس، عمان– الأردن، ص١٩٦، ٢٠٠١م، ١٤٢٢هـ، ط ۴.

[20]. القره داغي :بحوث في الاقتصاد الإسلامي، ص.

3. دا نظر د اسلامي شریعت له مهمو قواعدو سره مطابقت لري، لکه (الضرر یزال)، (الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة كانت أو خاصة) او(ورفع الحرج). د دې شرعي قاعدو پر اساس داین څخه باید هغه متحقق ضرر چې د دین په ترلاسه کولوکې ورسره مخ کیږي، دفعه شي، چې د پیسود قیمت د تفاوت د محاسبې له لارې شونی دی.

4. څرنگه چې اسلام د سود قرض پدې اساس حرام گڼلې دی؛ څو قرض اخیستونکی له ضرره څخه خوندي وساتي او ظلم پرې ونشي، په دې صورت کې قرض ورکونکی متضرر کېږي، نو اسلامي شریعت د دې اجازه نه ورکوي چې قرض ورکونکی متضرر شي، خو که چیرې داین ته د پیسو د ارزښت د تفاوت په صورت کې قیمت ورنه کړل شي، پرته له شکه ضرر ویني، بناء دا نظر د دې آیت مفهوم سره مطابقت لري (...وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لا تَظْلِمُونَ وَلا تُظْلَمُونَ).[21]

**دویم نظر: د پیسو د ارزښت تغییر د دین په ورکړه کې اعتبار نلري:**

د معاملاتو په پایله کې که د چا په ذمه د اوسنیو مروجو پیسو دین وي او د وخت په تیریدو سره د پیسو ارزښت لوړ او یا ټیټ شي، مدیون به هماغه اندازه دین داین ته ورکوي چې مخکې یې په ذمه کې ؤ او د پیسو د قیمت لوړوالي او ټیټوالي ته نه کتل کیږي. دغه نظر د دکتور یوسف القرضاوي او علی السالوس دی.

د دې نظر پر اساس په کال ۱۹۸۸ کې مجمع اسلامي، چې د ناستې ځای یې د کویت هیواد ؤ فیصله وکړه، چې مفهوم یې داسې دی: په ذمه کې د ثابتو دیونو ورکړه په بالمثل بڼه ده، نه په قیمت باندې؛ ځکه د دیونو ادا بالمثل تر سره کیږي، د پیسو د قیمت بدلون پکې رول نلري.[22]

**د دې نظر دلایل:**

1. اوسنۍ مروجې پیسې د طلا او سپینو زرو حکم لري؛ ځکه د طلاوو او سپینو زرو قایم دي، ټول وظایف یې ترسره کوي او ترڅنگ یې اوسنۍ پیسې له مثلي اموالو څخه گڼل کیږي، نو د دین ادا یې هم بالمثل ترسره کیږي.

2. که چیرې د پیسو ارزښت ته اعتبار ورکړل شي، په عقودو کې جهالت را منځ ته کیږي، داین او مدیون دواړه نه پوهیږي چې دین به څومره وي، مدیون په کومه کچه تفاوت سره دین داین ته ورکوي او داین په څومره تفاوت سره د دین مطالبه کولی شي، چې په نتیجه کې د نزاع اواختلاف باعث کرځي.[23]

3. لومړنی نظر جامع او شامل نظر نه دی، بلکې سطحي او د افرادو په ټیټه کچه کې دی، اوس مهال خو راکړه ورکړه د هیوادونو په کچه ترسره کیږي، دا په داسې حال کې چې د نړۍ په کچه دیون د هیوادونو ترمنځ بالمثل ادا کیږي، آن تردې چې غیر اسلامي هیوادونه هم په همدې بڼه تعامل کوي، دپیسو د ارزښت بدلون پکې هیڅ اعتبار نلري، نوڅنگه کیدای شي مسلمانان مغایر تعامل باندې مکلف کړو؟

21. سوره البقره آیت ( ۲۴۹ )

22. http://www.islampedia.com/MIE2/fatawa/zakat2.htm

23. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، بحث الدكتور علي أحمد السالوس.

4. په بانکونو کې جاري حساب د قرض حکم لري، بانک د شخص د سرمایې ضامن او په خلاص لاس ترې ګټه اخلي، خو د پیسو د ارزښت په صورت کې ټول معاصر علماء وايي چې بانک د حساب خاوند په هماغه اندازه پیسو بیرته ورکړه مکلف دی.
5. که د دیونو په ادا کې د اسعارو قیمت دخیل شي، نو د پیسو ارزښت چې کله ټیټ شي، او تفاوت یې محاسبه اوپراساس یې داین ته ورکړل شي، دا پدې معنا شوه چې مدیون داین ته له دین څخه زیاتې پیسې ورکړې او دا د قرض د سود، عملي مصداق ګرځي.[24]

**دریم نظر: په پیسو کې فاحش تغییر او تفاوت د دین په ادا کې معتبر دی:**

د پیسو په ارزښت کې فاحش بدلون، د دین په ورکړه کې باید محاسبه شي، پدې معنا که د دین د لزوم وخت او د ورکړې د وخت سره تفاوت ولري او د داوړو وختونو د پیسو قیمت په پرتله کولو سره تفاوت زیات وي، هغه تفاوت ته په پام لرلو سره، باید داین ته خپل دین ورکړل شي اوکه د پیسو په ارزښت کې تفاوت لږ رامنځ ته شوی وي، دغه تفاوت ته د دین په ادا کې نه کتل کیږي، هماغه اندازه دین ورکول کیږي چې د مدیون په ذمه لازم شوی ؤ. پورته نظر د ځینو معاصرو علماوو نظر دی، لکه دکتور مضر نزار العانی.[25]

**د پورته آراوو دلایلو ته کتنه:**

که په ټوله کې وګورو د لومړي نظر زیات تاکید پردې دی چې داین او مقرض له ضرره وژغوري، څو خلک نسیه معاملاتو ته مخه وکړي؛ ځکه په اوسنۍ زمانه کې د راکړې ورکړې لویه برخه په نسیه ترسره کیږي، نو

داخوف او اندیښنه باید نه وي، چې د دین د تاخیر په وجه داین اود حق خاوند متضرر کیږي، بلکې د احتمالي ضرر جبران د اسعارو قیمت ته په اعتبار ورکولو سره حل کیږي. نو ویلی شو چې لومړي نظر په مصلحت او د تعامل په واقعیتونو باندې بنا دی.

خو دې ته هم باید وکتل شي، چې له سودې معاملو څخه ځان ژغورل، مسلمانانو ته خورا مهمه موضوع ده اوترڅنګ یې په مطلق ډول د اسعارو ارزښت معیار ګرځول عاقدین له نزاع او مشکلاتو سره مخ کوي، نو ویلی شو چې دویم نظر په احتیاط بنا دی؛ د دې لپاره چې د سود مخه ونیول شي، د پیسو په ارزښت کې تفاوت ته یې هیڅ اعتبار نه ورکوي.

دریم نظر په حقیقت کې د لومړینو دوونظرونو څخه اخیستل شوی دی، چې د لږ تفاوت په صورت کې یې دویم قول سره یو ځای کیږي، او فاحش تفاوت په صورت کې لومړي نظر ته اعتبار ورکوي.

**د بحث پایله:**

د پورته موضوع د څیړنې عمده هدف دا دی چې د خپل فهم او استعداد په کچه له مختلفو معتبرو شرعي منابعو څخه په استفادې، یاده موضوع په سمه توګه وړاندې کړم، د لیکنې د لوستلو پرمهال له بحث څخه نیتجه اخیستنه د هر لوستونکی خپل حق دی، خو زه هم د بحث د لیکونکي په حیث د یادې موضوع په هکله خپل نظر په لاندې مختصرو ټکوکې وړاندې کوم، په دې هیله چې د پام وړ مو ورګرځي:

---

[24]. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، الدورة الخامسة، العدد الخامس، الجزء الثالث، بحث الشيخ عبد االله بن سليمان بـن منيع، ص 448.

[25]. مخکینی مرجع.

ځرنګه چې اوسنۍ کرنسي (کاغذي پیسې) د ارزښت اصلي منبع یې د خلکو لخوا اعتبار دی او اعتباري پیسې ورته ویل کیږي؛ ځکه دغه کاغذي پیسې په خپل ذات کې پدې کچه کوم ارزښت لرونکی جنس نه دی، بلکې د هر هیواد ښه او بد حالت یې په پیسو مستقیم اغیز لري، خو ترڅنګ یې له نقدینو (طلا، نقرې) سره یې هم څه ارتباط شته دی، د دینارو او دراهمو زیات وظایف پر مخ وړي، شرعي حقوق او مسؤولیتونه د دینارو او درهمو له ادرسه پرې ادا کیږي، بناء اوسنۍ پیسې په بشپړه توګه مستقل جنس نه ګڼل کیږي؛ نو اوسنۍ پیسې له طلاوو څخه سل په سلو جلا هم نه دي اوهمدا راز زیات پرې متکي هم نه دي؛ پر دې اساس په کلي ډول یوه نظرته اعتبار وکول مناسب نه بولم، بلکې کولی شو چې د پورته دوه لومړنیو نظرونو ته په اعتبار ورکولو لاندې محملونه وټاکو:

**لومړی محمل : عادی او عام حالت:**

کله چې د یوه هیواد هر اړخیره وضعیت عادي وي، په پولي سیاست کې یې کوم بیړنۍ تغییر نه وي رامنځ ته شوی او پیسې یې له تورم څخه په امن وي، که د پیسو په ارزښت کې یې فاحش تفاوت نه وي راغلی، لږ تفاوت د پیسو په ارزښت کې د دین په ادا کولو کې ورته اعتبار نه ورکول کیږي؛ ځکه د نورو اجناسو قیمتونه هم د کال په اوږدو کې کښته او پورته کیږي، خو د دین په ادا کې یې دغه تفاوت ته اعتبار نه ورکول کیږي، نو بناء په دې حالت کې دویم نظر باندې عمل کول په کار دی.

**دویم محمل: استثنایي او خاص حالت:**

که چیرې د هیواد پیسې په غیر عادي ښه او په لویه کچه د غیر عادي عواملو په وجه نزولي حالت غوره او خپل ارزښت له لاسه ورکړي، پرته له شکه په دې حالت کې فاحش غبن رامنځ ته کیږي، لکه د پاکستانی روپیې اوسني حالت، که چیرې داین ته دین د کمیت له مخې هماغه ټاکلی دین ورکړل شي، ضرر واضح دی؛ ځکه پدې صورت کې هغه خپل حق په بشپړه توګه نه ترلاسه کوي؛ نوبناء دلته باید د اهل خبره او مسلکي خلکو په محاسبه باید د داین ضرر جبران شي، چې په دې صورت کې لومړي قول ته اعتبار ورکول کیږی او ور باندې عمل کول مناسب بولم.

د یادونې وړده، د افغانستان صرافانو د تعامل پر اساس، هغوی د تبادلاتو معیار امریکایي ډالر ګرځولی دي، پدې معنا چې په صرافه مارکیټ کې د نورو کرنسیو تبادله او راکړه ورکړه، په اوتوماتیک ډول په ډالرو معادله کیږي، چې د اختلاف له منځه وړو او دحقوقو د ادا لپاره ښه عرف دی؛ ځکه د ډالرو په نرخ کې زیات تغییر نه پیښیږي.

د ضرر او نزاع له منځه وړلو په هدف، د صرافانو له عرف څخه په الهام اخیستلو، که چیرې، زمونږ په معاملاتو او د حقوقو په ورکړې کې، دا معیار معروف وګرځي، نو که د پیسو ارزښت د معاملې پرمهال په سرو زرو اویا په ډالرو، معادلت شي، د ډېرو ستونزو مخه نیسي.

د پیسو د ناچله کیدو په حالت کې د دین د ورکړې څرنګوالی:

د پیسو ناچله کیدو موضوع په حقیقت کې پراخه بحث دی، په هکله یې باید مستقله لیکنه وشي، خو د ځینو مهمو پوښتنو د ځواب ورکولو په هدف، دلته یې په لنډه توګه د مهمو ټکو یادونه کوم.

د یوه هیواد د پیسوکوټه (ناچله) کیدلو له امله زیاتې سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ستونزې را ولاړیږي، چې د حکومت د کمزوري کیدو سربیره د خلکو په ژوند باندې یې هم منفي اغیزې پریوځي، په ځانګړې توګه د حقونو خاوندان له جدي

اندیښنو سره مخ کوي، چې څنګه به خپل حقوق ترلاسه کړای شي؟ د یادې اندیښنې دحل په موخه، د پیسو د ناچله کیدو په صورت کې د دین د ورکړې شرعي حکم په لنډه توګه بیانول ضروري دي.

**د کساد او انقطاع مفهوم:**

(ا)– کساد:کله چې د یوه هیواد پیسې په کلي ډول، له تعامله وغورځیږي او څوک پرې راکړه ورکړه ونکړي، دې حالت ته کساد ( ناچله پیسې) ویل کیږي[26].

(ب)- انقطاع: انقطاع د پیسو هغه حالت ته وایې چې په عامه توګه له بازارونو ورکې او منقطع شي، ولو که له ځینو جهتونو سره شتون هم ولري [27].

له پورته تعریفونو څخه څرګندیږي، چې د کساد ( نه چلښت) او انقطاع، په دواړو صورتونوکې، پیسې له تعامله غورځیږي؛ ځکه په لومړي صورت کې که پیسې شتون هم ولري، څوک پرې راکړه ورکړه نکوي او په دویم صورت کې، که خلک پرې تعامل ته تیار هم وي، خو لاس رسی ورته نلري؛ بناء انقطاع هم د پیسو د ناچله کیدو یوه حالت کیدای شي.

**د پیسو د ناچله کیدو دوه مهم صورتونه:**

1. د پیسو د ناچله کیدو یو صورت دادی چې یو حکومت پخوانې پیسې لغوه او راکړه ورکړه پرې منعه اعلان کړي او پرځای یې نوی پیسې اعلان او ورته اعتبار وکړي، پرته لدې چې د لغوه شویو او اوسنیو پیسو ترمنځ په ارزښت کې څه تفاوت شتون ولري. د پیسو د بطلان د یاد صورت سبب بالعموم د نظامونو بدلون وي، لکه شاهي یا نظامي نظامونه په ولسي نظام بدليدل. په دې حالت کې معمولا حکومتونه خلکو ته معین وخت ټاکي، څو پخوانې پیسې اړونده جهتونو ته وسپاري او پرځای یې نوې پیسې ترلاسه کړي.

د یادونې وړ ده چې په بانکي حسابونو کې شته پیسې په خپله بدلیږي. په دې صورت کې د حقونو خاوندان خپل حقوق د نویو پیسو په اخیستلو سره ترلاسه کوي او د پخوانیو پیسو د مطالبې کوم دلیل شتون نلري. [28]

2. دویم صورت دا دی چې د حکومت له خوا پخوانې پیسې لغوه او پرځای یې نوې پیسې اعلان شي، خو د دواړو ترمنځ د ارزښت له اړخه تفاوت شتون ولري، لکه اوسنې افغانۍ چې د استاد رباني د حکومت د پخوانیو پیسو قایم مقام شوی، پخوانې سل افغانۍ، د جمهور رییس کرزي په وخت کې په یوې افغانۍ معادله شوې. په دویم صورت کې پخوانې پیسې اکثرا د تورم په سبب لغوه کیږي. دلته هم د لومړي صورت په څیر، د حقونو خاوندان مکلف دي، چې خپل حقونه په نویو پیسو ترلاسه کړي؛ ځکه داین په دې صورت کې د نویو پیسو په اخیستلو، څه ضرر نهویني.[29]

---

[26]. المعجم الوسیط: ص 786. تنبیه الرقود: 60/2

[27]. رسالة تنبیه الرقود علی مسائل النقود ضمن رسائل ابن عابدین، ج 2 ص58؛ وحاشیة رد المحتار له أیضًا، ج 4 ص118.

[28]. مجلة مجمع الفقه الاسلامي ج 9\ ص1133

[29]. مخکینی ماخذ.